نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۵/۰۶/۱۲

# د سنګین د مالمند ۴۰۰ هټېز بازار چا وسوځاوو؟

## طالب که دولت؟

حاجي فضل محمد کاکا په یوه لاس ګوډ دی، هلمندی لنګوټه یې پر سر او ډېرو غمونو یې رنګ تور کړی دی، د کابل په هوټلونو او د ځینو خلکو په کورنو کې له میاشتو میاشتو راهیسي شپې په دې تمه سبا کوي چې که اواز یې د ګډ حکومت مشران یا د امنیتي ادارو مشران واوري.

هغه اوس له هر دولتي کارکونکي څخه ناهیلی ښکاري، پر هیچا یې باور نه راځي چې د دوی حقونه به ورته ورکړي.

د هلمند ولایت د ولایتي رسنیو او ژورنالستانو سربیره د ځینو نړیوالو هغو رسنیو چې په پښتو ژبه خپروني کوي هم ګیله من دی، هغه وایي چې اواز یې هیچا هم وانه وریدی، په خپل حق او د دوی د سېمې د نورو حقونو تر لاسه کولو یې د هرچا دروازه وټکوله خو چا یې ږغ وانه وریدي.

فضل محمد کاکا ته نږدې میاشت مخکې زما نوم هم کوم دوست یاد کړی ؤ، خبرې مې ورسره وشوې، ولې هغه ناهیلی و، ځان یې دوه اونی ورک کړ، او ماته یې په لومړي ورځ وویل چې زموږ سره ځینو ژورنالستانو مرکې وکړي خو بیا یې د نشر درک ونه لګیدی.

کیدای شي کوم سوچ به ورته پیداشوی وي، دوه اونی وروسته یې ماته زنګ وواهه، ویې ویل چې نور بیخي ناهیلي یو، که تاسي کولای شئ زموږ د سنګین ولایت د مالمند د خلکو اواز تر چا ورسولای شئ.

په یو لاس ګوډ فضل محمد کاکا په دروازه کې ولاړ و، هغه کوټې ته دننه کړم، یوه غټه دوسیه یې را واخیستله، ډېر کاغذونه پکې و، نږدې هرې اړوند دولتي اداري ته یې خپله عریضه وړاندي کړې وه، د دوی د بازار د سوځیدو عکسونه هم ورسره و.

ماته یې ګرده اسناد راکړل، او ښه داده چې هغه ویډیو یې هم راته راکړه چې دوی په خپله له سوځیدلي بازار څخه کړې وه.

فضل محمد کاکا د سنګین ولسوالي په مالمند ولسوالی کې پرچون دوکان درلود، د ولسوالیو او کلیو دوکانونو کې هر څه وي، ځکه د کلیوالو چې څه په کار وي دوکاندار کوشش کوي هر هغه څه چې توان ولري دوکان کې یې پیداشي.

هغه وایي د سلواغي ۲۶مه نیټه ۱۳۹۳ل کال و، چې د خاص قطعي (سپیشل فورس) افغان ځواکونو زموږ د مالمند بازار چې نږې ۴۰۰ هټی لري وسوځاو.

هغه دې پوښتنې ته ځواب داسي وایي چې ولې دوی ستاسي دوکانونه (هټی) وسوځول؟ دا پوښتنه دې له دولت څخه وشي، هغوی ولی د عام ولس پرچون دوکانونه، مستري خاني، کتابخاني او د بوټو ځایونه وسوځول.

وایي په سېمه کې ډېر لیري ډزې وشوې، بیا د ځانګړي قطعي کسان راغلل زموږ د سېمې ډېر خلک یې ورسره بندیان کړل، هغوی یې شکنجه کړل، پرمخې یې نږدې ۶ ساعته پرې ایستلي و، عکاسي یې هم ورڅخه کوله.

وروسته یې همدا بندیان مخکې کړل او دوی تر شا پسې و بیا راغلل د همدوی په مخکې یې د همدوی دوکانو ته اور واچاو، هغوی ورته کتل خو چا هیڅ هم نه شو کولای، افغان سپیشل فورس ویل چې تاسي د طالبانو ملګري خلک یاست ځکه دوکانونه درته سوځو، طالبان ستاسي له دوکانو څخه سودا کوي، که ستاسي دوکانونه نه وای هغوی به سودا (د مصرف مواد) له کوم ځایه ترلاسه کوله؟

فضل محمد وایي داسي خلک ډېر شته چې دولت بدنامه کوي، که نه دا ډول ظلم او ناروا عمل باید څوک ونه کړي.

په دغه وخت کې چې بازار سوځیدی ټول دوکانونه بند و، او دوکانداران پکې نه و، ځینې خو همدې د ځانګړې قطعي کسانو د بندیانو په ډول ورسره ساتلي و، او ځیني په کورونو کې پټ و.

فضل محمد کاکا وایي زموږ په سېمو کې چې د ځانګړي قطعي وسلوالو ږغ شي، خلک کورونو ته زغلي او پټیږي، ځکه بیا یې دوی نیسي او دغه کلیوال تر ځان مخکې کړي، که چیرته طالبانو ماینونه ښخ کړي وي تر څو په همدي کلیوالو او عامو خلکو انفجار وکړي، داسي هم کله ناکله کیږي چې له کورونو څخه ځیني کسان راوباسي او بیا یې ترځان مخکي کړي چې د ماینو خوراک هغه عام وګړي شي، له همدې ویرې خلک پټیږي نو ځکه په بازار کې څوک نه وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هلته زموږ د مالمند د سیمې د خلکو له پاره د موټرو خرڅولو ځای هم و، ۳۱ کوچنی موټر پکې ولاړ و، د موټر فروشي مالک هلته د دی له پاره ناست و چې موټران یې نا درکه نه شي، او غلا نه شي، د ځانګړې قطعي کسان ورته راغلل، هغه خپل د کار جواز ورښکاره کړ، ۳۱ موټر ولاړ و، لومړی یې د هغه جواز ورته وسوځاو، او بیا یې موټرونو ته اور واچاو، ۲۴ موټره سوځیدلي چې رالیږل شوې هیئت یې د ۱۹ موټرو مکمل سوځیدل تاید کړي او ۵ موټره لږ سوځیدلي تاید شوې. د افغان سپیشل فورس کسانو ورته ویلي و چې دا موټرونه خو یا د طالبانو دي او یا خو تاسي یې پر طالبانو خرڅوئ، نوځکه موټرونه درته سوځو.

فضل محمد کاکا وایې چې تر ټولو لومړي د هلمند ولایت والي ته ورغلو، بیا ولایتې شورا، له هغه وروسته د سیمه ایزو ادارو دفتر کابل کې اودا ډول د لوی درستیز دفتر او د مشرانو جرګې غړو ته یې د مالمند بازار اړوند معلومات وړاندي کړي دي، خو تر نن ورځې یې هیڅا هم اواز نه دي اوریدلی.

دوی وایې چې د سیمه ایزو ادارو مرستیال ډاکټر فرید مومندزي ته یې ویلي که حق یې ورنه کول شي، بیا به مجبوره وي چې د مدني لارو خپل اواز د لاریون په ډول او یا هم د هرات – کندهار سړک بندولو په ډول تر چارواکو رسوي .

دوی لا هم هیله لري چې که وکولای شي د ملی امنیت شورا له غړو او یا د ارګ د تشریفاتو ریاست په مرسته ولسمشر غني سره ووینې، نږدې ۵ میاشتې کیږي چې نه دي توانېدلي.

له نیکه مرغه درې اونۍ مخکې یو کورنۍ ټلویزون په پښتو ژبه له حاجي فضل محمد سره مرکه کړي، او د هغې مرکې وروسته داسي فکر کیږي چې اوس د دوی د اسنادو د څیړلو له پاره د ارګ د تشریفاتو ریاست ته دنده سپارل شوې چې هیئت ورته وټاکي.

په هلمند ولایت کې د ولسي وګړو د کورونو او دوکانو نړولو راپورونه ډیر ځله خپاره شوي، نه نړیوالو او نه هم کورنیو د بشر د حقونو ادارو په دې اړه عکس العمل ښودلي دی.

په وروستیو وختونو کې خو د ملي اردو د توپونو په ډزو کې هم د ملکي خلکو د وژلو راپورونه په غزني کې ورکول شي، له دې مخکې په سنګین کې د وداده پر مراسمو د ملي اردو له خوا د ډزو راپورونه و.

مګر د ګډ حکومت مشران لا هم د ملکي خلکو پر وژلو پټه خوله دي، همدا لاملونه دي چې د ملکي خلکو کورونه او دوکانونه سوځول کیږي.

فضل محمد کاکا هغه اسناد چې دوی چمتو کړي په دې ډول یې ماته وسپارل.

۲۶/۱۱/۱۳۹۳ د هلمند ولایت د سنګین ولسوالي د مالمند بازار ته د دولتي او افغان سپیشل فورس ځواکونو له خوا اور واچول شو.

۳/۱۲/۹۳ د ولایت مقام او ولایتي شورا ته مو خپله عرض پاڼه وړاندي کړه.

۵/۱۲/۹۳ د ولایت د والي له خوا د سیمه ایزو خپلواکې ادارې ته مکتوب راکول شو

۲۵/۱۲/۹۳ د ستر درسیتز ریاست د اوپراسیون ستر درستیز د هلمند ۲۱۵ میوند قول اردو ته مکتوب لیږلي

۲/۱/۹۴ د مشرانو جرګې غړي سناتور محمد هاشم خان الکوزي ته عریضه شوی.

محمد هاشم الکوزي د مشرانو جرګې په استازیتوب هیئت وټاکی، هیئت خپل راپور ترتیب او اړوند ځای ته یې وړاندي کړ

۱۸/۱/۹۴ د سیمه ایزو ارګانو څخه ملی امنیت شورا ته مکتوب، چې له رئیس جمهور سره د دوی ملاقات ترتیب شي، هیئت سیمې ته واستول شي، او خساره ورته ورکول شي.

۲۲/۱/۹۴ د ولسې جرګې لومړي نایب د دفتر څخه د امنیت شورا ته دویم مکتوب چې باید مسئله تر غور لاندي ونیول شي.

۲۹/۱/۹ د اسدالله وفا د شکایاتو کمیسون او سولې شورا مرستیال له خوا د ارګ تشریفاتو ریاست ته لیک چې د ولسمشر سره د دوی ناسته وشي.

د مالند د بازار خلک د لیږل شوې هئت اسناد په لاس لري چې ټول تاوان دوی ته ۱۹۲۰۴۵۰۰ نولس میلیونه دوه لکه څلور زره پنځه سوه افغانۍ اټکل شوې ده.

داچې د مالمند له ولسي زیانمنو وګړو سره مې وعده کړې وه چې د لیکنې د لارې به د دوی اواز د لوړ پوړو چارواکو تر غوږونو رسوم، له همدې لارې غواړم چې د عام ولس غوښتنو ته د چارواکو توجه واړوم.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ